پاکستان نه په ژمی که د خپلي خوښي ستنیدو آسانتیاوو تعلیق/ځنډیدل

ټول هغه افغانان چې د اعتبار وړ پی او آر کارت لری ورته خبر ورکول کیږی چې یو این ایچ سی آر لخوا د بیرته ستنیدو پروسه ژمی کی معطل/ځنډیږی.

د ژمی د تعلیق پر مهال، یو این ایچ سی آر به د ستنیدو آسانتیاوی د خپلی خوښی ستنیدو مرکزونو چمکنی، ازاخیل او بلیلی د نغدو پیسو مرکزونو کښی نه تر سره کوی .

د ژمی د تعلیق پر مهال، پی او آر کارتونه خپل د اعتبار وخت ساتی (د اعتبار وخت هماغه دی) او پی او آر کارت لروونکی پاکستان کی د کډوالو په توګه خپل حقوق لری .

یوازی هغه راجستر شوی کډوالو لپاره په نومبر میاشت کی د بیرته تګ د یو این ایچ سی آر د نغدو پیسو مرسته ورکول کیږی چې د چمکنی او ازاخیل د خپلی خوښی ستنیدو مرکزونو سره د نومبر ۲۰۱۶ کال لپاره ټاکل شویدی.

هغه راجستر شوی کډوال چې په رسمی توګه نشی کولای د پاکستان د خپلی خوښی ستنیدو مرکزونو کی ملنځه وکړی او یا څوک د خپلی خوښی ستنیدو فورمی نه پرته ستنیږی، هغوی سره به د نغدو پیسو مرسته نکیږی او هغوی به افغانستان کی د نغدو پیسو مرکزونو ته لاس رسی نلری.

بلیلی، کویټه کښی د خپلی خوښی ستنیدو مرکز ۷ نومبر ۲۰۱۶ باندی بندیږی.

خیبر پښتونخوا کی د خپلی خوښی ستنیدو مرکزونه چمکنی، ازاخیل او بلیلی په کویټه کی ۱ مارچ ۲۰۱۷ کی بیرته پرانیستل کیږی.

په کندهار کی د نغدو پیسو مرکز ۲۱ نومبر ۲۰۱۶ نه ۱ مارچ ۲۰۱۷ پوری بندیږی. کابل او جلال آباد کی د نغدو پیسو مرکزونه به ۱۵ دسمبر ۲۰۱۶ نه ۱ مارچ ۲۰۱۷ پوری بند وی.

پاکستان کی یو این ایچ سی آر دفترونه به د ژمی وقفي پر مهال هم کډوالو ته د مشوره، معلوماتونه او مرستو ته دوام ورکوی.

هغه راجستر شوی (پی او آر کارت لرونکی) کډوال چې ځوروني، زور یا ناوړه چلند سره مخامخ کیږی، یو این ایچ سی آر سره دی مرستي لپاره اړیکه ونیسی او یا لاندیني د ساتني مرستیالي شمارو ته دی زنګ ووهی.

ټول خدمتونه چې یو این ایچ سی آر لخوا افغانستان او پاکستان کی تر سره کیږی وړیا دی. که چیری کوم شخص یا کوښد د پیسو یا فیس خوښتنه کوی، مهربانی وکړی ژر تر ژره په لاندیني مرستیالو شمارو راپور ورکړی.

د خیبر پښتونخوا مرستیاله شماره: ۰۳۰۰۸۵۸۵۶۰۰

د بلوچستان مرستیالي شماری: ۰۳۳۳۷۸۱۹۶۰۱؛ ۰۳۳۳۷۸۰۴۱۹۳؛ ۰۳۳۳۷۸۳۳۸۳۴

د سند مرستیاله شماره: ۰۳۴۲۲۷۰۴۸۸۸

اسلام آباد/ پنجاب/ او د پاکستان د اداری لاندی کشمیر د مرستي شماره: ۰۳۰۰۵۰۱۸۵۶۸